AJSC
AFGHAN JOURNALISTS SAFETY COMMITTEE
کمیته مصونیت خبرنگاران افغان
د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیته

# رسنۍ په اونۍ کې

نږدې یوه نیمه میاشت وروسته له دې چې طالبانو د هیواد واک ترلاسه کړ او د بیان ازادي او د رسنیو ، ژورنالیستانو او د مصوونیت او خوندیتوب په اړه یې ژمنې هم وکړې، خو لاهم در رسنیو پر وړاندې - معلوماتو ته د لاسرسي له محدودیت څخه رانیولې بیا تر ډول ډول گواښونو او فزیکي او رواني تاوتریخوالو پورې – ستونزې شتون لري.

## د خبریالانو پر وړاندې تاوتریخوالی

**د افغانستان د خبریالانو ټولنې خپل یو بل غړی، سید معروف سادات له لاسه ورکړ. سید معروف سادات چې په دې وروستیو کې یې د یوې بهرنۍ رسنۍ خبریال و، په جلال اباد ښار کې د نامعلومو وسله والو له خوا ووژل شو.** د پیښې عاملین تر اوسه ندي نیول شوي او ځایي حکومتي چارواکو ددغه خبریال د وژل کیدو د لامل په اړه لاتر اوسه څه ندي ویلي.

## د اطلاع رسونې کیفیت

وروسته له دې چې له ۷۰ سلنې څخه زیاتې رسنۍ د بیلابیلو لاملونو له وجې وتړل شوې او همدارنگه دا چې یو زیات تعداد مسلکي خبریالان له هیواد څخه بهر ته ووتل، اطلاع رسونه او د کره خبرنو د دوران سطح، تر ټولو هغه ټیټې کچې ته رارسیدلې ده. دا خلا په ځانگړې ډول د افغانستان په ولایتونو کې ډیره ترسترگو کیږي. دا چې د رسنیو د اطلاع رسونې کیفیت، کومې خوا ته ځي په ډیرو عواملو پورې تړلې ده موضوع ده. د نړیوالو مرستو څرنگوالی، اقتصادي وضعیت، د امنیت او تقنیني اسنادو په اړه رسنیو ته د حکومت د ژمنتیا کچه، هغه مسایل دي چې د رسنیو د اطلاع رسولو پر کیفیت، مثبت یا منفي اغیز درلودلای شي.

## د رسنیو راتلونکی

- **اقتصادي ستونزې:** د تیر حکومت له رانسکوریدو وروسته او ورپسې د بانکي سیستمونو دریدل رسنۍ د مالي سرچینو له اړخه له سختو ستونزو سره لاس او گریوان کړې دي. ډیرې رسنۍ دې ته اړ شوي چې خپلو کارکوونکو ته ځواب ورکړي او یا کارکوونکو رسنۍ پرې ایښې دي.
- **مدیریتي او د ظرفیت ستونزې:** وروسته له دې چې در رسنیو لسگونه مدیران او کارکوونکي له افغانستان څخه بهر ته ووتل، تشې یې په ټولیز ډول د رسنیو کیفیت، د خبر د تولید له کیفیت څخه رانیولې بیا د رسنۍ تر عمومي تولید پورې، له کیفي اړخه رسنۍ اغیزمنې کړې دی.

## د رسنیو ستونزې

- **د خیبرنوښت راډیو د نشراتو درول:** طالبانو د خیبرنوښت راډیو ودانۍ نیولې او د خپل مرکز په توگه یې کاروي. د مهترلام ښار له سقوط راهیسې ددغې راډیو نشرات ځنډول شوي دي. د مصوونیت کمیټې د ولایتي همکار د څیړنو په اساس، دا موضوع څو ځله د لغمان له والي او د اطلاعاتو کلتور له رییس سره مطرح شوې، خو تر اوسه حل شوې نه ده.
- **په بغلان ولایت کې د تنویر ټلویزون او ارزو راډیو خپرونو بندیدل:** دغه رسنۍ چې د تنویر گروپ تر چتر لاندې فعالیت کوي، فعالیت یې له هغه وروسته وځنډول شو چې بغلان کې حکومتي مسوولینو ویلي چې ددغې راډیو ځمکه غصبي ده.

## اطلاعاتو ته لاسرسی

*که څه هم د نوي حکومت د رامنځته کیدو څخه څه د پاسه یوه نیمه میاشت تیره شوه خو بیا هم معلوماتو ته د لاسرسي په برخه کې جدي ستونزې شته. دا مسله په ځانګړې توګه د کابل په پرتله، په ولایاتو کې ډیره ترسترګو کیږي. که څه هم په هغه غونډه کې چې د مصوونیت کمیټې او کورنیو چارو وزارت ترمنځ ترسره شوه، امنیتی مسوولینو وویل چې د ځینو خنډونو په لیرې کیدو به حکومت وکولای شي چې په پراخه توګه رسنیو او خبریالانو ته د اطلاعاتو د لاسرسي زمینه برابره کړي. په تیره اوونی کې:*

- **د پیښې سیمې ته د خبریالانو ننوتلو او خبري پوښښ څخه ممانعت:** د تلې په یوولسمه نېټه د ا.ا.ا د داعش ډلې پرضد د کابل ښار د ۱۷ مې ناحیې په سیمه کې یو لړ عملیات ترسره کړل. خبریالانو شاوخوا لس ساعته ددې عملیاتو د خبري پوښښ لپاره انتظار کې تیر کړل، خو اجازه ورنکړل شوه چې صحنې ته ننوځي او پیښې ته خبري پوښښ ورکړي.

- **له خبریالانو سره پر مرکو بندیز:** پدې اونی کې، د هرات او کندهار ولایتونو د اطلاعاتو او کلتور ریاستونو د اسلامي امارت چارواکو ته سپارښتنه وکړه چې له خبریالانو سره دې مرکې نه کوي او د اړتیا په صورت کې دې ددغو ولایتونو د اطلاعاتو او کلتور له ریاستونو سره اړیکه ونیول شي. په یو شمیر ولایتونو کې طالبانو له خبریالانو څخه غوښتي چې خپل رپوټونه دې له خپرولو مخکې د هغو ولایتونو د اطلاعاتو او کلتور ریاستونو ته وسپاري.

- **د غونډې د خبري پوښښ ممانعت:** په دې اونی کې، د بلخ د عامې روغتیا ریاست ډاکټرانو د دغه ولایت د یوه روغتون د ډاکټر د تبنتولو د څرنګوالي په اړه اعتراضیه غونډه درلوده. که څه هم په دې اړه وار د مخه له خبریالانو سره د لاریون د خبري پوښښ په اړه همغږي شوې وه، خو بیاهم خبریالانو ته اجازه ورنکړل شوه چې دغې غونډې ته خبري پوښښ ورکړي.

## د کمیټې عدالت غوښتنه

- **له بند څخه د خبریال خوشي کیدل:** په دې اونی کې، په ننګرهار ولایت کې د سپین غر راډیو د نشراتو مدیر، په ختیځ کې د افغان خبریالانو د خوندیتوب استازي د پرلپسې عدالت غوښتنو او په کابل کې له کورنیو چارو وزارت سره له بیا بیا اړیکو وروسته خوشې شو. ضیا الرحمن فاروقي په دې وروستیو کې په ننګرهار ولایت کې د طالبانو له خوا نیول شوی و.

- **د خبریال خوشي کیدل:** ازاد فوټو ژورنالیست مرتضی صمدي، د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې د هڅو او عدالت غوښتنو په پایله کې خوشې شو. ښاغلی صمدي د وږي میاشتې په ۱٦ مه د هرات په ښار کې د لاریون په ترځ کې د مظاهرو د تنظیمولو او د خلکو د هڅولو په تور ونیول شو. د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې مسوولینو د کورنیو چارو وزارت له چارواکو سره د یوې غونډې په ترځ کې د یاد خبریال د خوشې کیدو غوښتنه وکړه، د کورنیو چارو وزارت مسوولینو ومنله چې ښاغلی صمدي به خوشې کوي.

## مثبت پرمختګونه:

- د اطلاعاتو او کلتور وزارت وایي چې دوی په رسنیو هیڅ بندیز نه دی لګولی او نه به یې وضع کړي.
- د اسلامي امارت چارواکو،همدارنګه د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې مسوولینو ته ډاډ ورکړی چې اطلاعاتو ته د لاسرسي په برخه کې او دغه راز د خبریالانو او رسنیو په وړاندې د تاوتریخوالي د پیښو د څیړنو په اړه به هراړخیزه همکاري کوي.